د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
د مطبوعاتو ریاست
مسلسل نمبر: #۴۹
هفته نامه آبادي اوونیزه
ABADI ONLINE WEEKLY
د اقتصـادي او ټـولنیــــزو مسایلـو پـه بـرخه کــې
د ریاســت الوزراء اقتصـــادي معاونیت خـــبري اوونیزه
شنبه، د ذوالقعده ۹ مه، ۱۴۴۵ هـ . ق کال
#۵۹

## سرلیکنه



د روان کال د ثور په میاشت کې د هېواد په ډېرو ولایتونو کې سخت سیلابونه راووتل. خو ددې ټولو ولایتونو په پرتله سېلابونو په بغلان ولایت کې درانه مالي او ځاني زیانونه واړول او یوه غمیزه یې رامنځته کړه. د ښځو او ماشومانو په ګډون یې سلګونه کسان مړه او ټپیان او کورنۍ یې د غم په ټغر کېنولې. زرګونه جریبه کرنیزې ځمکې چې د خلکو یوازینۍ عایداتي سرچینه وه، ویجاړې، کورونه یې په کنډوالو بدل او څاروي یې له منځه یوړل. ښوونځي، کلینیکونه، کانالونه، کاریزونه او څاګانې یې د سېلاب خړو اوبو لاندې کړل.

دا لومړی ځل نه دی چې د افغانستان یو ولایت د سېلابونو له امله له داسې یو ناورین سره مخ دی، بلکې ددې ترڅنګ په نورو ولایتونو کې همدا سږ کال او تېر کال ددې ډول طبیعي پېښو له امله خلکو ته درانه مالي او ځاني زیانونه واوښتل. دا چې سېلابونه او دې ته ورته طبیعي پېښې ولې رامنځته کېږي، هغه پوښتنه ده، چې باید ځواب شي. ددې تر ټولو ستر لامل په نړیواله کچه د اقلیم بدلون دی. افغانستان په دې اقلیمي بدلون کې تر یوې سلنې کمه ونډه لري، خو زیانونه یې تر نورو ډېر ګالي. دا چې د اقلیمي بدلون له امله افغانستان ډېر زیانمنونکی دی، خو سره له دې هم نړیوال چې د اقلیم بدلون اصلي عاملین دي، ددې پر ځای چې د طبیعي پېښو د رامنځته کېدو پرمهال له زیانمنو وګړو سره مرسته وکړي، برعکس پر افغانستان یې بندیزونه هم لګولي دي.

ددې ټولو ستونزو او ناخوالو سره سره اسلامي امارت د اقلیمي بدلون د اغېزو د راکمولو په برخه کې خپلې هڅې کړې دي. د ننګرهار په پوهنتون کې د اقلیمي بدلون په تړاو د درې ورځنی کنفرانس جوړېدل، د ځنګلونو د پرېکولو مخنیوی، د واورو، بارانونو او سیلابونو د اوبو مهارولو په موخه د سترو، متوسطو او کوچنیو بندونو جوړول هغه اقدامات دي چې اسلامي امارت د اقلیمي بدلون د اغېزو کمولو په برخه کې ترسره کړي دي.

مګر سره له دې هلو ځلو دادی بیا هم په بغلان، غور،تخار، فاریاب، او نورو ولایتونو کې د سېلابونو راوتلو له امله زموږ هېوادوالو ته درانه ځاني او مالي زیانونه واوښتل. په کار ده چې ددې زیانمنو هېوادوالو لاسنیوی وشي. په بغلان ولایت کې چې د سېلابونو له امله کوم وګړي زیانمن شوي، اسلامي امارت یې پر وخت مرستې ته ور رسېدلی دی. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له پېښې یوه ورځ وروسته دغه ولایت ته سفر وکړ. د مرستو راغونډولو، په شفاف ډول وېشلو، په سېلابونو کې د نادرکه کسانو موندلو، د ټپیانو د درملنې او د شهیدانو خاورو سپارلو په موخه یې جلا جلا کمېټې جوړې کړې. خپله د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د بغلان سېلاب ځپلې سیمې او زیانمن وګړي له نږدې ولیدل. د دوی د درملنې له پاره یې روغتیایي کمپونه ولګول او د سرپناه له پاره یې خیمې ورکړې. دغه راز یې د خوراکي توکو ترڅنګ نغدي مرستې تر زیانمنو ورسولې. دا هغه څه دي چې یو مسوول حکومت یې ترسره کوي او اسلامي امارت دا کار له ځنډ پرته او پر وخت ترسره کړ. دا د افغان ولس له پاره بسنه کوي چې داسې یو حکومت او داسې ژمن مسوولین یې په برخه شوي دي چې په هر حالت کې د دوی په خوا کې ولاړ دي.

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له سـیلاب‌ځپلو سره د مرستو په موخه بغلان ولایت ته سفر وکړ



۲ مه صفحه

## د سیلاب‌ځپلو سیمو له اوسېدونکو سره ناسته



۳ مه صفحه

## د ملګرو ملتونـــو د ادارو له مسوولینو سره کتنه



۴ مه صفحه

# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له سېلاب‌ځپلو سره د مرستو په موخه بغلان ولایت ته سفر وکړ



د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتي په ۲۲مه نېټه د شنبې په ورځ چې د ۱۴۴۵ قمري کال د ذوالقعدې له دریمې نېټې سره برابره ده، بغلان ولایت ته د وروستیو سېلابونو له امله له زیانمن شوو هېوادوالو سره د مرستو، خواخوږۍ او د مرسته رسوونکو او ژغورونکو ادارو او بنسټونو ترمنځ د لا ښې همغږۍ رامنځته کولو په موخه سفر وکړ.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د دې اووه ورځني سفر په لړ کې د بغلان ولایتي مسوولینو، پېښو ته د رسېدنې عالي امارتي کمېسیون اړوند وزارتونو او ادارو له مسوولینو، د مرستندویه ادارو له استازو، په افغانستان کې مېشتو د ملګرو ملتونو ادارو له استازو، د سېلاب‌ځپلو ولسوالیو او سیمو له اوسېدونکو، علماوو، او متضرر شویو هېوادوالو او د بغلان ولایت د علماوو شورا سره لیدني، د همغږۍ ځانګړو کمېټو له استازو سره له نېږدې کار، د مرکزي بغلان، نهرین، برکي او ګذرګاه نور ولسوالیو له سېلاب‌ځپلو سیمو څخه لیدنه او د نجات، روغتیا، د مرستو جلب او جذب، د مرستو توزیع او د تکفین او تدفین کمېټو همغږي او ګډ کار یې له مهمو کاري لومړیتوبونو څخه وو ، چې دلته یې په لنډ ډول یادونه کوو:

### پېښو ته د رسېدنې عالي امارتي کمېسیون ځانګړې غونډې جوړېدل

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ پېښو ته د رسېدنې عالي امارتي کمېسیون غونډه د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتي په ۲۲مه نېټه شنبې ورځ په مرمرینه ماڼي کې ترسره شوه. په دغه غونډه کې د ټولو اړوندو وزارتونو او ادارو وزیران او نور مسوولین راوغوښتل شول څو د بغلان ولایت په ګذرګاه نور، مرکزي بغلان، برکي او نهرین ولسوالیو کې هېوادوالو ته د سېلابونو په واسطه د اوښتو زیانونو له امله هغوی ته عاجلو مرستو رسولو، د بند پاتې هېوادوالو د ژغورلو، د نادرکه هېوادوالو د پیدا کولو او همدا راز د شهیدانو د تدفین او تکفین په موخه لاندې کمېټې وټاکل شوې:



# در مورد طرح ایجاد صندوق حمایت از انرژی های تجدید پذیر بحث شد



در جلسهٔ نوبتی کمیته تخنیکی کمیسیون اقتصادی که بتاریخ ۲۴ام ثور ۱۴۰۳خورشیدی در قصر مرمرین تشکیل گردیده بود، روی طرح ایجاد صندوق حمایت از انرژی های تجدید پذیر و تعدادی از موضوعات دیگر بحث شد. پس از بحث و تبادل نظر همه جانبه در این جلسه، به نمایندگان وزارت آب و انرژی وظیفه سپرده شد تا طرح ایجاد صندوق حمایت از انرژی های تجدید پذیر را با وزارت های مالیه، اقتصاد، صنعت و تجارت، شرکت برشنا و اداره ملی حفاظت از محیط زیست شریک سازد. وزارت ها و ادارات یاد شده راه بدیل تمویل را جستجو و طرح اصلاح شده را برای تاییدی به کمیسیون اقتصادی ارائه نمایند.



۱- د مرستو جلب او جذب کمېټه: یاده کمېټه د سرې میاشتې په مشرۍ جوړه شوې چې دنده یې د خوراکي توکو او البسې راغونډول او زیانمنو سیمو ته رسول دي، چې پېښو ته د رسېدو په چارو کې د دولت وزارت یې غړیتوب لري.

۲- د مرستو د توزیع کمېټه: دغه کمېټه د اقتصاد وزارت د مرستیال محمد عالم جمیل په مشرۍ جوړه شوې ده، چې دنده یې د راټولو شویو مرستو وېش دی. د بغلان ولایت د مقام استازی، سرې میاشتې ټولنه، پېښو ته د رسیدو په چارو کې د دولت او د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارتونه یې غړي دي.

۳- د نجات کمېټه: دغه کمېټه د بغلان ولایت په مشرۍ جوړه شوې، چې دنده یې په سېلابونو کې د بند پاتې او نادرکه هېوادوالو ژغورل او موندل دي. د خوږو او درملو ملي اداره، د ملي دفاع، کورنیو چارو، ټولګټو او روغتیا وزارتونه یې غړیتوب لري.

۴- د روغتیا کمېټه: دغه کمېټه د روغتیا د وزارت په مشرۍ جوړه شوې، چې دنده یې د سېلابونو له امله ټپیان شویو هېوادوالو ته د روغتیایي خدمتونو وړاندې کول دي. د خوږو او درملو ملي اداره او سرې میاشتې ټولنه یې غړیتوب لري.

۵- د تکفین او تدفین کمېټه: یاده کمېټه پېښو ته د رسیدو په چارو کې د دولت وزارت په مشرۍ جوړه شوې، چې دنده یې د وروستیو سېلابونو له امله د شهیدانو شویو هېوادوالو تکفین او تدفین دی. د ملي دفاع، کورنیو چارو، روغتیا او ټولګټو وزارتونه یې غړیتوب لري.

## د بغلان ولایت له مسوولینو سره لیدنه



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په ۲۲مه نېټه مازدیګر مهال له کابل څخه حرکت وکړ او د شپې ناوخته د بغلان ولایت ته ورسېد. محترم حاجي ملا صاحب د بغلان ولایت مقام ته له رسېدو سره سم په لومړي سر کې د والي مرستیال په مشرۍ له ولایتي مسوولینو سره وکتل او له هغه څخه یې د شهیدانو، ټپیانو او نادرکه شوو هېوادوالو او همدارنګه د تخریب شوو کورونو، مسجدونو، مدرسو، ښوونځیو، تلف شوو څارویو، تخریب شوو کرنیزو ځمکو، باغونو، کاریزونو، کانالونو، سړکونو، پلونو او پلچکونو لومړني ارقام ترلاسه کړل. دا ارقام او په لومړي سر کې د ولایتي ادارو له لوري ترسره شوې مرستې، سېلاب‌ځپلو سیمو ته د ژغورونکو ټیمونو استولو او همدا راز د موجودو ستونزو په اړه معلومات د شپې تر یوې نیمې بجې ترلاسه شول، خو اکتفاء پرې ونه شوه. په همدې موخه تصمیم ونیول شو، چې سهار وختي له ټولو ولایتي رئیسانو سره مجلس ترسره شي.

## د بغلان د ولایتي ادارو له رئیسانو سره لیدنه



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په ۲۳مه نېټه یکشنبې ورځې تر غرمې مخکې د بغلان ولایت په مقام کې له ټولو اداري رئیسانو سره مجلس ونیو. د دغه لیدنې پر مهال محترم حاجي ملا صاحب له هر رئیس په جلا جلا ډول د هغوی اړوند برخه کې د اوښتو تلفاتو او ترسره شوو مرستو په اړه د وروستیو ارقامو شریکولو غوښتنه وکړه. ټولو رئیسانو په نوبت سره په خپلو برخو کې د ترسره شوو مرستو، سېلاب‌ځپلو سیمو ته د استول شوو ژغورونکو ټیمونو او هېوادوالو ته د اوښتو زیانونو په اړه تخمیني ارقام شریک کړل. خو پر دې هم اکتفاء ونه شوه.

د دقیقو ارقامو او اوښتو زیانونو د کچې معلوملو په موخه د هرې ولسوالۍ لپاره جلا جلا کمېټې جوړې شوې. د دغو کمېټو په سر کې د ولایتي ادارو رئیسان او د زیانمنو ولسوالیو مسوولین وو. دوی ته هدایت وشو، چې سېلاب‌ځپلو سیمو ته لاړ شي او په دقیق ډول معلومه کړي، چې څومره هېوادوال شهیدان او ټپیان شوي او څومره لا تراوسه نادرکه دي. همدا راز معلومه کړي چې څومره کورونه په بشپړ ډول او څومره په نیمه ډول ویجاړ شوي او دا هم معلومه کړي چې څومره کرنیزې ځمکې، کانالونه، مسجدونه، مدرسې، روغتونونه، مکتبونه او لارې تخریب او په کوم شمېر څاروي تلف شوي دي. یادې کمېټې په سمدستي ډول زیانمن شوو سیمو ته روانې شوې او په کار یې پیل وکړ.

## د سېلاب‌ځپلو سیمو له اوسېدونکو سره ناسته



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په ۲۳مه نېټه یکشنبې ورځې غرمه مهال د ولایت له مقام څخه د مرکزي بغلان ولسوالۍ ته لاړ او هلته یې د سېلاب‌ځپلو سیمو له اوسېدونکو او زیانمني شوي سیمې له نېږدې وکتلې. په دغه لیدنه کې د مرکزي بغلان، برکې او نهرینو ولسوالیو علماوو، مشرانو، سپین‌ږیرو، زیانمنو شویو هېوادوالو او د یادو ولسوالیو مسوولینو ګډون کړی وو. د دغو ولسوالیو مسوولینو او راغلو هېوادوالو د اوښتو زیانونو اندازه شریکه کړه او خپلې غوښتنې او ستونزې یې هم مطرح کړې. محترم ملا صاحب په پوره حوصلې سره د دوی ستونزې او غوښتنې واورېدې او د ژر حل او مرستو رسولو ډاډ یې ورکړ. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال دوی ته ډاډ ورکړ چې اسلامي امارت په خپل ټول توان د دوی مرسته کوي او په ډېر شفاف ډول به هر زیانمن شوي هېوادوال ته مرستې ورسېږي.

محترم ملا صاحب د یادو ولسوالیو له اوسېدونکو سره د لیدنې پر مهال ووېل، هغه ولسوالۍ او سیمو ته به تر نورو لومړیتوب ورکړي چې هلته په زیاته اندازه زیانونه اوښتي دي او له هغه وروسته به په ترتیب سره ټولو سیمو ته مرستې ورسېږي.

## له نږدې څخه د سیلاب‌ځپلو سیمو لیدنه



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په ۲۴مه نېټه دوشنبې ورځې له غرمې مخکې سیلاب‌ځپلو سیمو ته سفر وکړ او هلته یې اوښتي زیانونه له نږدې وکتل. اوښتي تلفات او د زیان کچه لوړه وه، ځکه مرسته رسوونکو ټیمونو ته هدایت وشو، چې تر نورو سیمو مخکې برکې ولسوالۍ ته مرستې ورسوي. د مرستو توزیع کوونکو کمېټو ته هدایت وشو، چې په لومړي سر کې د شهیدانو کورنیو ته نقدي او خوراکي مرستې وویشي او په دوهم قدم کې هغو هېوادوالو ته مرستې ورسوي چې کورونه یې نړېدلي او څاروي یې تلف شوي دي.

## د همغږۍ ځانګړې کمېټې جوړېدل



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په ۲۴مه نېټه دوشنبې ورځې له غرمې وروسته د ولایت په مقام کې د بغلان د والي د مرستیال په مشرۍ چې د دغه ولایت د علماوو شورا غړي یې هم برخه وه، د راټولو شوو مرستو د توزیع لپاره ځانګړې کمېټه جوړه کړه. محترم حاجي ملا صاحب یادې کمېټې ته هدایت وکړ، چې سیلاب‌ځپلو سیمو ته د وروستیو ارقامو په موخه د لېږل شوو کمېټو له لوري د ارقامو له شریکولو وروسته دې په ډېر شفاف ډول راټولې شوې مرستې د اوښتي زیان کچې ته په کتو پر اړمنو هېوادوالو تقسیم کړي. دوی ته هدایت وشو، چې راټولې شوې او راتلونکې مرستې په منظم ډول ترتیب او ژر تر ژره یې زیانمنو سیمو ته ولېږي.

په همدې ورځ د ولایت په مقام کې د سیلاب‌ځپلو سیمو اوسېدونکو ته د خوراکي توکو چې وریجې، ډوډۍ او د څښاک پاکې اوبه پکې شاملې وې، د رسولو ترتیب جوړ شو او هره ورځ د ورځې په جریان کې درې ځلې ورته رسول کېدل.

د همدې ورځ په سهار د فواید عامې ریاست ته هدایت وشو، چې تړلو ولسوالیو او زیانمن شوو سیمو ته هغه غځېدلې لارې او سړکونه چې د سېلابونو له امله بند شوي وو، ژر تر ژره خلاص کړي څو پرې یادو سیمو ته تګ راتګ اسانه شي. د الله تعالی په فضل سره دا کار ډېر په ښه ډول په چټکۍ سره ترسره شو او تړلې بندې شوې لارې او سړکونه د مرسته رسوونکو او ژغورونکو ټیمونو پر مخ خلاصې شوې.

یادې کمېټې ته لارښوونه وشوه، چې هېڅ خیریه بنسټ او موسسه په خپل سره توزیع نشي کولی، هرڅوک چې مرستې کوي، د دغه کمېټې سره په همغږۍ او د دغه کمېټې تر نظارت او مشرۍ لاندې به یې کوي.

## د بغلان ولایت د علماوو شورا له مسوولینو سره ناسته



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په ۲۴مه نېټه دوشنبې ورځې مازدیګر مهال د بغلان ولایت علماوو شورا له غړو سره وکتل. د دغه لیدنې پر مهال د هغوی غوښتنې او ستونزې واورېدل شوې او د حل ډاډ ورکړل شو. محترم ملا صاحب د علماوو شورا ته سپارښتنه وکړه چې په دغه سخت وضعیت کې زیانمنو شوو هېوادوالو ته اطمینان او ډاډ ورکړي.

د علماوو شورا غړو ته دنده وسپارل شوه، چې زیانمنو شوو سیمو ته لاړ شي، هلته له سیلاب‌ځپلو هېوادوالو سره غم شریکي وکړي، د شهیدانو فاتحې واخلي او هېوادوالو ته حوصله او مورال ورکړي چې اسلامي امارت د دوی ترڅنګ ولاړ دی او په هر حالت کې یې خدمت کوي.

## سیمې ته د مرستو د توزیع او د شهیدانو او ټپیانو د دقیقو ارقامو معلومولو په موخه د ځانګړو شویو کمېټو استول



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د هدایت پر اساس د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په ۲۵مه نېټه سه‌شنبې ورځې سهار د اقتصاد وزارت د مرستیال مولوي محمد عالم جمیل په مشرۍ د مرستو د توزیع جوړه شوې کمېټه مرکزي بغلان ولسوالۍ ته لاړه او هلته یې توزیع پیل کړه. یادې کمېټې ته ځانګړې لارښوونې او سپارښتنه وشوه چې د توزیع پر مهال به د یادو ولسوالیو مسوولین او د کنټرول او امنیت په موخه به د امنیه قومندانۍ مسوولین هم ورسره وي. همدارنګه له توزیع وروسته به د یادو ولسوالیو د استخباراتو مسوولینو او قومي مشرانو لاسلیکونه هم اخلي. په دغه یادښتي لیکونو کې به د مرستو کچه او د هغو هېوادوالو شمېر هم معلوم وي چې مرستې ورته رسېدلې دي.

همدارنګه د ګذرګاه نور، مرکزي بغلان، برکې او نهرین ولسوالۍ ته د شهیدانو او ټپیانو د دقیق ارقامو معلومولو په موخه هم کمېټې ولېږل شوې.

## د پلخمري ښار اړوند کرکر سیلاب ځپلو سیمو څخه کتنه



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند بغلان ولایت ته د خپل سفر په ترځ کې د سه‌شنبې په ورځ د ثور میاشتې په ۲۵مه نېټه د پلخمري ښار اړوند کرکر سیلاب‌ځپلې سیمې ته سفر وکړ او هلته یې سیلاب‌ځپلي هېوادوال او هغوی ته اوښتي زیانونه له نږدې وکتل. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال یادې سیمې ته له رسېدو وروسته لومړی د شهیدانو روح ته دعا وکړه، زیانمن شوو هېوادوالو ته یې تسلیت وړاندې کړ او ځان یې د هغوی په غم کې شریک وباله. محترم ملا صاحب یادې سیمې ته له ځان سره لسګونه ټنه خوراکي توکي، درمل او البسه لېږدولي او پر دې سربېره یې له زیانمنو شویو هېوادوالو سره نقدي مرسته هم وکړه.

## له نهرین او برکې ولسوالیو څخه لیدنه



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند بغلان ولایت ته د خپل سفر په ترځ کې د چهارشنبې په ورځ د ثور میاشتې په ۲۶مه نېټه د نهرین او برکې ولسوالیو ته سفر وکړ او هلته یې له سیلاب‌ځپلو هېوادوالو سره له نږدې ولیدل. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، د شهیدانو دقیق ارقام د سروې ټیمونو له لوري راټول او د هر شهید کورنۍ ته نقدي، خوراکي توکي او البسه توزیع او همدا راز د ټپیانو درملنه شوې ده محترم ملا صاحب زیاته کړه، د سروې ټیمونو د تخریب شوو کورونو، کرنیزو ځمکو، اوبو کانالونو، کاریزونو او همدا راز تلف شوو څارویو سروې پیل کړې، چې له بشپړېدو وروسته به په یادو برخو کې د اسلامي امارت له لوري له زیانمنو کورنیو سره هراړخیزې مرستې وشي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه چې پر بغلان سربېره په نورو ولایتونو کې هم سیلاب‌ځپلو ته نقدي او د خوراکي توکو مرستې لېږل شوې دي.

## د برکې ولسوالۍ له علماوو سره لیدنه



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د بغلان ولایت برکې ولسوالۍ ته د خپل سفر په ترځ کې د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د ثور میاشتې په ۲۷مه نېټه د پنجشنبې په ورځ د یادې ولسوالۍ له علماوو سره وکتل. د دغه لیدنې پر مهال د برکې ولسوالۍ علماوو په وخت سره د پېښو سیمو ته د ژغورنکو ټیمونو او بېړنیو مرستو د لېږلو له امله له اسلامي امارت څخه مننه وکړه او په ځینو برخو کې یې موجودې ستونزې او غوښتنې د ریاست‌الوزراء له اقتصادي مرستیال سره شریکې کړې، چې محترم ملا صاحب یې د حل ډاډ ورکړ. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، په ټولو زیانمن شوو سیمو کې د مرستو د وېش لړۍ لا هم جریان لري، چې تر دې مهاله زرګونو هېوادوالو ته پر نقدي مرستو سربېره د خوراکي توکو، درملو او البسې مرستې رسېدلې دي. محترم ملا صاحب زیاته کړه، د اسلامي امارت له لوري به مرستو د وېش لړۍ دوام ولري.

## د ملګرو ملتونو د ادارو له مسوولینو سره کتنه

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ثور میاشتې په ۲۸مه نېټه جمعې په ورځ د بغلان ولایت په مقام کې په افغانستان کې مېشتو د ملګرو ملتونو بېلابېلو ادارو له مسوولینو سره وکتل. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په بغلان کې د وروستیو سیلابونو له امله



د اوښتو زیانونو کچه زیاته وبلله او د دغو ادارو له استازو څخه یې وغوښتل، څو له اسلامي امارت سره په همغږۍ د بغلان له سیلاب ځپلو سره د بشري مرستو ترڅنګ په پراختیایي برخو کې خپلې مرستې زیاتې او چټکې کړي. د محترم ملا صاحب په خبره، د وروستیو سیلابونو له امله د بغلان ولایت په ځینو ولسوالیو کې د خلکو پر هستوګنیزو کورونو سربېره، ۱۹ روغتونونه، ۱۹ ښوونځي، ۱۱۵ پلچکونه، لسګونه د اوبو لوی او کوچني کانالونه او همدا راز ۶۰ کیلومتره سړک تخریب شوي، چې اساسي بیارغونې او پاک کارۍ ته اړتیا لري. په افغانستان کې مېشتو د ملګرو ملتونو د ادارو استازو د بغلان له سیلاب ځپلو سره خپله خواخوږي څرګنده کړه او د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ته یې پر بشري مرستو سربېره په پراختیایي برخو کې هم د مرستو او همکارۍ ډاډ ورکړ. دوی پر وخت د پېښو سیمو ته د اسلامي امارت د ژغورنکو ټیمونو له رسېدو ستاینه وکړه، چې په سیلاب کې بند پاتې کسان یې وژغورل. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند پر ټولو نړیوالو مرستندویه ادارو غږ وکړ، چې په دغه سخت وضعیت کې دې د سیلاب ځپلو افغانانو لاس نیوی وکړي.

## کابل ته راستنېدنه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له خپل اووه ورځنۍ سفر وروسته د روان لمریز کال د ثور میاشتې په ۲۸مه نېټه د شنبې په سهار ۴ بجې بېرته کابل ته راستون شو.



# په بغلان ولایت کې وروستیو سیلابونو ته د اسلامي امارت رسېدنه

لیکوال: امان‌الله حنیفي




## سریزه

طبیعي پېښې هر کال د نړۍ په مختلفو برخو کې پېښېږي او له امله یې پر بشري تلفاتو سربېره ډېر درانه مالي زیانونه هم رامنځته کېږي. دغه پېښې د سېلاب، زیاتې واورې اورېدو، شدیدې سړې هوا، زیاتې ګرمۍ، زلزلې، سونامي، غر ښوییدنې، توپان، شدیدې وچکالۍ، وبا او … بڼو رامنځته کېږي، چې ځینې وخت په ډېره پراخه پیمانه تلفات رسوي. بشر د دې ډول پېښو د بشپړ کنټرول او مخنیوي څخه عاجز دی؛ خو د ځینو تدبیرونو په نیولو سره کولی شي له یادو پېښو د پېښېدونکو تلفاتو کچه یوڅه راکمه کړي او یا هم د ځینو ګامونو په اخیستو سره د یوې طبیعي پېښې پرمهال د ډېرې انسانانو ژوند وژغوري او د مالي زیانونو کچه هم ټیټه شي.

افغانستان هم د نړۍ یو له هغو هېوادونو څخه دی چې وخت ناوخت پکې طبیعي پېښې رامنځته کېږي او اوښتي زیانونه یې ځینې وخت خورا درانه او ملا ماتوونکي وي. د تېرو دوه کلونو پر مهال په خوست او پکتیکا او همدارنګه هرات ولایتونو کې قوي زلزلې او دا څو ورځې وړاندې په بغلان ولایت کې راوتلې خونړي سېلابونه یې ښې نمونې دي. موږ دلته په هېواد کې وروستیو رامنځته شوو طبیعي پېښو، اوښتو تلفاتو او په ټوله کې دغو تلفاتو ته د اسلامي امارت د رسېدنې په اړه لنډې خبرې کوو.

## په هېواد کې وروستۍ رامنځته شوې طبیعي پېښې

افغانستان د تاریخ په اوږدو کې له طبیعي پېښو خورا زیات اغېزمن شوی او افغانان تر ډېره بریده په داسې طبیعي پېښو کې خپل ژوند له لاسه ورکوي چې تر څه حده د مخنیوي وړ وي او یا یې لږ تر لږه د زیانونو کچه راکمېدای شي. په دې وروستیو څو میاشتو او ځانګړې توګه څو اوونیو کې له یوې خوا د هېواد په ځینو ولایتونو کې د زیاتې واورې اورېدو او دغه راز په بېلابېلو سیمو کې د سېلابونو راوتلو درانه مالي او ځاني تلفات واړول. موږ ولیدل چې د تېر ژمي پر مهال د هېواد په شمالي ولایتونو کندوز، بلخ، تخار او سرپل کې د زیاتې واورې اورېدو او شدیدې سړې هوا له امله لسګونو هېوادوالو ته مرګ‌ژوبله واوښته، شاوخوا سلګونه کورونه ویجاړ شول او زرګونه څاروي تلف شول. له هغه را وروسته د وروستیو سیلابونو له امله په مختلفو ولایتونو کې هېوادوالو ته د سر او مال زیان ورسېد، چې تر ټولو زړه بورنوونکې پېښه یې څو ورځې مخکې په بغلان ولایت کې د خونړیو سیلابونو د راوتلو له امله د شاوخوا ۱۸۰ هېوادوالو مړینه، د سلګونو کسانو ټپیانېدل او د زرګونو کورونو ویجاړېدل دي، چې د قربانیانو او بې سرپناه شوو ډېری برخه یې ښځې او ماشومان دي. د دغو سیلابونو له امله زرګونه څاروي هم تلف شوي دي.

## زیانمنو شویو هېوادوالو ته د اسلامي امارت رسېدنه

طبیعي پېښې په ټوله کې دوه پړاوونه لري، چې یو یې تر پېښې وړاندې پړاو دی او بل هم تر پېښې وروسته پړاو دی. په دغو دواړو پړاوونو کې له تخنیکي پلوه ځینې اقدامات شته دي چې د دغو پېښو د زیانونو د مخنیوي او یا راکمولو لپاره ترسره کېږي.

طبیعي پېښې په نړۍ کې یو معمول دی، خو د دغو پېښو ښه مدیریت او د زیانمنو ولسونو ستونزو ته رسېدنه بیا د حاکمو حکومتونو مسوولیت دی. افغانستان چې د امریکایي اشغال له پای ته رسېدو وروسته څو ځله طبیعي پېښو ورته درانه زیانونه ورسول، هرځل اسلامي امارت د خپلو ټولو امکاناتو په کار اچولو سره یو په بل پسې ښه مدیریت کړل.په خوست، پکتیکا او هرات ولایتونو کې د پېښو شوو زلزلو پر مهال اسلامي امارت په لومړي سر کې د هېوادوالو د ژغورلو لپاره خپل هوایي ځواک د پېښو سیمو ته ولېږه او په پوره اخلاص او نه ستړي کېدونکې ډول یې شپه او ورځ د هغوی د خلاصون هڅې وکړې، چې په وخت سره ټپیان روغتونونو ته ولېږل شول، په سخت وضعیت کې خوراکي توکي، د ښناک پاکې اوبه او همدا راز موقتي سرپناه او کالي د پېښو ځایونو ته انتقال شول.

د لومړنیو عاجلو مرستو له رسېدو وروسته راټولو شوو مرستو ته یو ځانګړې کمېسیون وټاکل شو او د دغه کمېسیون له لارې په ډېر شفاف ډول پر مستحقو هېوادوالو مرستې ووېشل شوې او د همدغه کمېسیون له لورې ټولو هغو زیانمنو شوو هېوادوالو ته نوي کورونه جوړ شوې، چې مخکیني کورونه یې د زلزلې له امله په بشپړ ډول وران شوي وو. د اسلامي امارت د مشرانو د دوامداره مرستو لېږلو او هلته د سیمې او هېوادوالو له نږدې د حال اخیستو او په وخت سره یې ستونزو ته د رسېدو په پایله کې د شاوخوا یو کال په جریان کې زرګونو هېوادوالو ته د سرپناه ځایونه جوړ او ورغول شول، چې لله الحمد اوسمهال په خوندي ډول ژوند پکې کوي.

د خوست، پکتیکا او هرات له زلزلو وروسته د تېر ژمي پر مهال د هېواد په شمال کې د زیاتې واورې اورېدو او سړې هوا د رامنځته کېدو پر مهال د افغانستان اسلامي امارت په وخت سره چټک اقدام وکړ. ټول هغه هېوادوال یې د هوایي ځواک په واسطه وژغورل چې په واورو کې بند او یا یې هم کورونه نړېدلي وو. اړمنو هېوادوالو ته د مرستو رسولو

په موخه يې د شمالي ولايتونو د فوايد عامې رياستونو ټوله ماشينري ساحې ته ولېږله، چې ټولې لارې يې پاکې او خلاصې کړې. همدا راز يې ټولو هغو ځاړويو ته د هوا له لارې وابنه ورسول چې د مرګ له ګواښ سره مخ وو. همدې ته ورته په دې وروستيو ورځو کې د سېلابونو راوتلو له امله په بغلان کې لويه غميزه رامنځته شوه. خو لکه د تېر په څېر بيا هم اسلامي امارت د خپلو هېوادوالو ژغورلو او هغوی ته د بېړنيو مرستو رسولو په موخه د عمل ډګر ته ودانګل. د پېښې له رامنځته کېدو سره سم د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ پېښو ته د رسېدنې عالي امارتي کمېسيون فوق‌العاده غونډه وکړه او د همدغه کمېسيون له لارې د سرې مياشتې په مشرۍ د مرستو د جلب او جذب؛ د اقتصاد وزارت په مشرۍ د مرستو د توزيع؛ د بغلان ولايت د مقام په مشرۍ د ژغورنې؛ د روغتيا وزارت په مشرۍ د درملنې او پېښو ته د رسېدنې وزارت په مشرۍ د تکفين او تدفين کمېټې وټاکل شوې او هدايت ورته وشو، چې ژر تر ژره د پېښې سيمو ته ځانونه ورسوي او هره کمېټه خپل کار پيل کړي .

پېښو ته د رسېدنې عالي امارتي کمېسيون له فوق‌العاده غونډې وروسته د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د شپې په ۱۲ بجو ځان بغلان ته ورساوه او هلته يې له ولايتي مسوولينو د وضعيت معلومات واخيستل.

د بغلان ولايت په برکې، نهرين، ګذرګاه نور او مرکزي بغلان ولسواليو کې چې سېلابونو درانه ځاني او مالي تلفات اړولي و، د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په هدايت ټولو ولايتي مسوولينو او له کابل څخه ورغلو کمېټو په خپل کار پيل وکړ، ملي دفاع وزارت په سېلاب کې بند پاتې هېوادوال د هوايي ځواک په مرسته وژغورل، د ۲۱۷ عمري قول اردو قوماندان او ټول پرسونل يې په سيمه کې د خلکو په خدمت مصروف وو، ټپيان يې د ځمکې او هوا له لارې روغتونونو ته ورسول، د روغتيا محترم وزير سيمې ته لاړ او هلته يې روغتيايي کمپ جوړ کړ، د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو محترم وزير د ماشومانو او ښځو د ژغورنې په موخه سيمې ته خوراکي توکي، د څښاک پاکې اوبه، کمپلې، کالي او موقتي خيمې ولېږلې چې زيانمن شوي هېوادوال يې له نازک وضعيت وژغورل. د بغلان ولايت د علماوو شورا غړو متضرر شوو هېوادوالو ته د تسليت او خواخوږۍ مراتب وړاندې کړل او د شهيدانو په فاتحو کې يې ګډون وکړ.

دغه راز د ټولګټو وزير د بغلان کارې ټيم او ماشينرۍ سربېره په کندوز او سمنګان ولايتونو کې هم د خپلو رياستونو پرسونل او ماشينري د بغلان ولايت سېلاب ځپلو خلکو سره د همکارۍ په موخه سيمې ته ولېږلې، ټول بند سړکونه او لارې يې خلاص کړل، هغه سيمې يې په نښه کړې چې تر نورو ډېر تلفات پکې رسېدلي وو، هغوی ته يې د ژغورنې ټيمونه ور زيات کړل، د مرستو بهير يې ور چټک کړ او بې سرپنا شوي هېوادوال يې ټول خوندي سيمو ته انتقال کړل.

د اسلامي امارت مشرانو په دې اکتفاء ونه کړه، بلکې خپله ټولو زيانمنو شوو سيمو ته له نږدې ولاړل، هلته اوښتي زيانونه او متضرر شوي هېوادوال يې له نږدې وليدل، دوی ته يې پر خوراکي او نورو مرستو سربېره نقدي مرستې هم توزيع کړې، ډاډ يې ورکړ چې تر هغو به يې اسلامي امارت لاسنيوی وکړي څو يې ژوند بېرته عادي حالت ته راوګرځي.

د اسلامي امارت مشرانو په ټولو شتمنو هېوادوالو، خيريه بنسټونو، مرستندويه ادارو، ملي سوداګرو او همدا راز نړيوالو بنسټونو غږ وکړ، چې په دغه سخت وضعيت کې د افغانانو لاسنيوی وکړي او ژوند يې وژغوري. د الله تعالی په فضل او د اسلامي امارت په نه ستړې کېدونکو هڅو سره اوسمهال د بغلان ولايت سيلاب‌ځپلې له سخت وضعيت راوتلي او د لومړنيو اړينو توکو ټولې مرستې ورته رسېدلي دي.که څه هم د بغلان خونړي سېلابونه ډېره لويه غميزه او زړه بوږنوونکې پېښه ده؛ خو په همدغو سختو شرايطو کې د اسلامي امارت د مشرانو، مسوولينو او مجاهدينو سترياوې، د هېوادوالو د ژغورلو لپاره هڅې او له هغوی سره له مهربانۍ او عاطفې ډک چلند دردېدلو زړونو ته ملحم کېږي او احساس کوي، چې الله تعالی نېک او صالح مشران او يو خادم نظام په افغانستان کې واک ته رسولی. د اسلامي امارت د مشرانو له دې هڅو جوتېږي چې په رښتيني مانا د خپل ولس خدمت کوي او دې ولس ته د قدر په سترګه ګوري.



## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ؋۷۲,۰۵ | ؋۷۲,۱۰ |
| ۱۰۰۰ | پاکستاني کلداري | ؋۲۵۰ | ؋۲۵۰ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ؋۱,۳۱ | ؋۱,۳۱ |
| ۱ | اروپايي يورو | ؋۷۸,۴۹ | ؋۷۸,۵۵ |
| ۱ | روسی روبل | ؋۰.۷۹ | ؋۰.۷۹ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ؋۸۶۵ | ؋۸۶۶ |
| ۱ | انګليسي پونډ | ؋۹۱,۲۵ | ؋۹۱,۳۵ |
| ۱ | سعودي ریال | ؋۱۹,۲۱ | ؋۱۹,۲۳ |
| ۱ | اماراتي درهم | ؋۱۹,۶۲ | ؋۱۹,۶۳ |
| ۱ | چيني ين | ؋۹,۹۷ | ؋۹,۹۸ |